# د سرور کاینات حضرت محمد مصطفی ﷺ (۹۹) حدیثونه



اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ، إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ، إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ﴿صحيح البخاری﴾

## د مسلمان د عزت دفاع کول (الحديث)

Ketabton.com

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللَّهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (ترمذي، جمع الفوائد)

ژباړه: کوم شخص چي د خپل ورور د عزت دفاع وکړي الله به د قيامت په ورځ دده د مخ څخه اور ليري وساتي.

## اصلي صله رحمي کونکی (الحديث)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنِ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قَطَعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا. رواه البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: صله رحمي کونکی هغه نه دی چي (که دوستان صله رحمي وکړي دی يې کوي او که يې قطع کړي دی يې هم قطع کوي) بلکي صله رحمي کونکی هغه دی چي دده سره قطع رحمي وسي نو دی د هغه سره دوستي وساتي.

---

## د تکړه انسان کمښت (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: خلک دا ډول دي لکه سل اوښان (په سلو اوښانو کي نژدې دا وي چي يو څوک) په دوی کي تکړه اوښ لا هم پيدا نه کړای سي. يعني انسانان دا ډول دي چي ټول د استعداد خاوندان نه دي، په سلو کسانو کي به يو تکړه او با استعداده انسان پيدا کيږي. (متفق عليه)

---

## د اذان د دعا فضيلت (الحديث)

نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که څوک اذان اوري او دا دعا (تر اذان وروسته) ووايي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ. نو دغه کس ته به د قيامت په ورځ زما شفاعت ورسيږي. رواه البخاري

---

## د جنت او دوزخ نژدې والی (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

جنت ستاسو د چَوَټُوْ تر تسمې لا هم درته نژدې دی او دوزخ هم داسي (درته نژدې) دی. رواه البخاري

---

## باد د رحمت يا عذاب لپاره مامور دی (الحديث)

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي (يو ځل) د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مخ کي يوه شخص پر باد لعنت ووايه نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: پر باد لعنت مه واياست ځکه چي دا خو (د رحمت يا عذاب لپاره) د الله له طرفه مامور دی او کوم شخص چي پر داسي شي لعنت وايي چي هغه د لعنت مستحق نه وي نو لعنت پر لعنت کونکي باندي راګرځي. رواه الترمذي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه منافق چي د ژبي مهارت لري (الحديث)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: أخوف ما أخاف على أمتي كل منافق عليم اللسان. رواه أحمد

زما د امت په اړه زما سره تر ټولو زياته ببره د هر هغه منافق څخه ده چي د ژبي مهارت ولري) د ژبي فصاحت او منطق ولري خو په زړه او عمل جاهل وي، عقيده يې فاسده وي پخپلو جذباتي خبرو خلک ځان ته جلبوي. فيض القدير)

---

## كامل ايمان لرونكى مؤمن (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په مؤمنانو كي كامل ايمان د هغه چا دى چي د هغه اخلاق تر ټولو ښه وي او په تاسو كي غوره او بهتر هغه څوك دى چي د خپلو ښځو سره ښه كوي. رواه الترمذي و ابوداود الى قوله خلقا

---

## ايمان په څلورو شيانو بشپړ كيږي (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

څوك چي د چا سره د الله لپاره مينه او محبت كوي او د الله لپاره د يو چا سره بغض او دښمني كوي او د الله لپاره يو چا ته شى وركوي او د الله په خاطر يو چا ته شى نه وركوي نو (دې نفر) خپل ايمان بشپړ او كامل كړى دى. رواه ابوداود

---

## د قوم ګمراهي خپل منځي شخړي دي (الحديث)

رسول اكرم صل الله عليه وسلم فرمايلي دي:

مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ. رواه الترمذي

ژباړه: هيڅ قوم تر هغه هدايت وروسته چي دوى پر وه، نه دى ګمراه سوى مګر (هغه وخت ګمراه سوى دى) چي كله په جنجال او شخړو كي ولوېدل.

---

## د لمانځه مختلفي درجې (الحديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسو الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :د سړي لمونځ چي په خپل کور کي یې کوي په یوه لمانځه (حساب) دی، او د خپل قوم په مسجد کي یې لمونځ په ۲۵ لمونځونو دی، او په مسجد جامع کي یې لمونځ چي د جمعې لمونځ پکښي کیږی په ۵۰۰ لمونځونو دی،

او په اقصی (بیت المقدس) مسجد کي یې لمونځ په ۵۰،۰۰۰ لمونځونو دی، او زما په مسجد (نبوي) کي یې لمونځ په ۵۰،۰۰۰ لمونځونو دی، او په مسجد حرام (مکه معظمه) کي یې لمونځ په ۱۰۰،۰۰۰ (یو لک) لمونځونو دی .رواه ابن ماجه

---

## د ملائکو ذکر (الحدیث)

حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وسوه چي کوم کلام بهتر دی؟ نو ویې فرمایل چي هغه کلام کوم چي الله د خپلو ملائکو لپاره غوره کړی دی، هغه سبحان الله وبحمده دی. رواه مسلم

---

## د قرانکریم د علم حاصلول (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :مَنْ تَعَلَّمَ كِتَابَ اللَّهِ ثُمَّ اتَّبَعَ مَا فِيهِ ; هَدَاهُ اللَّهُ مِنَ الضَّلَالَةِ فِي الدُّنْيَا، وَوَقَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سُوءَ الْحِسَابِ .رواه رزین (مشکوة)

ژباړه: چا چي د الله د کتاب علم حاصل کړی او بیا یې د هغه څه پیروي وکړه چي په دې (کتاب) کي دي نو الله تعالی به یې په دنیا کي د ګمراهۍ څخه لیري کړي او پر هدایت به یې کړي او د قیامت په ورځ به دی د بد حساب څخه وساتي.

---

## د نبي علیه السلام د خبرو طریقه (الحدیث)

عن عائشة قالت : ما کان رسول الله صلی الله علیه و سلم یسرد سردکم هذا ولکنه کان یتکلم بکلام بینه فصل یحفظه من جلس إلیه. رواه الترمذي (شمائل الترمذي)

عائشه رضي الله عنها فرمایي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکي خبري ستاسو د خبرو په شان (پرلپسې او ژر ژر) نه وې بلکي په داسي ډول یې خبري کولې چي صافي او ښکاره او هر مضمون د بل څخه ممتاز وو، څوک چي به ورسره ناست وو د هغه په ذهن کي یې ښه ځای نیوی.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مصيبت او غم څخه د نجات دعا (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چي په بلا او مصيبت اخته کس ويني او بيا دغه دعا ووايي:

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا.

نو هغه په دغه بلا نه اخته کيږي، هغه که هر ډول مصيبت او بلا هم وي) .رواه الترمذي وابن ماجه)

---

## د ايمان افضل ښاخ

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ايمان څو اويا ښاخه دی. تر ټولو افضله ځانګه يې د لا اله الا الله ويل دي او تر ټولو کښته ځانګه يې د لاري څخه ازارونکي شيان ليري کول دي او حيا د ايمان يو ډير لوی صفت او ښاخ دی. متفق عليه

---

## د ديرشو درواغجنانو ښکاره کيدل (الحديث)

خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبًا مِنْ ثَلاَثِينَ ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ. رواه البخاري

ژباړه: قيامت به تر هغه پوري قايم نه سي تر څو ديرشو (۳۰) ته نژدې درواغجنان ښکاره نه کړل سي، هر يو به دا وايي چي زه د الله رسول يم.

---

## د زيتون روغن برکتناکه دي (الحديث)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: كلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ. رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي

ژباړه: د زيتون (روغن) خورئ او بدن په مالش کوئ ځکه چي دا (تيل) د يوې برکتناکي درختي څخه دي.

---

## څو زرين اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ايا زه تاسو ته هغه څه ونه ښايم چي په هغه سره الله ستاسو ګناهونه محوه کوي؟ او درجې مو په لوړوي؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم ورته وويل چي هو! اى د الله تعالى رسوله! رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د تکليفونو په وخت کي پوره اودس تازه کول او مسجدونو لره زيات قدمونه اخيستل او د يوه لمانځه څخه وروسته د بل لمانځه انتظار ايستل. همدغه رباط دى (کوم چي الله پاک زيات ثوابونه پر درکوي). اخرجه مسلم و مالک

---

## د متقي شخص لپاره شتمني (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

لاَ بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنْ اتَّقَى اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ. (رواه احمد)

ژباړه: د هغه شخص لپاره غني کېدل هيڅ پروا نه لري چي د الله عزوجل څخه بيرېږي (متقي وي).

---

## ايا د رسول صلى الله دعا غواړې (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله جل جلاله دي پر هغه چا ورحميږي چي د مازيګر د لمانځه څخه مخکي څلور رکعته نفلي لمونځ اداء کوي. (رواه احمد والترمذي و ابوداؤد)

---

## په څو ايتو ويلو سره د تهجد ثواب (الحديث)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: من قرأ آخر آل عمران في ليلة کتب له قيام ليلة . رواه الدارمي

ژباړه: کوم شخص چي د شپې د سورت آل عمران اخري برخه ووايي نو دده لپاره د قيام الليل (تهجد ثواب) ليکل کيږي. (د آل عمران د ١٩٠ ايت إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ څخه بيا د سورت تر پايه ويل کيږي).

---

## د انسانانو په زړو کي دالله تصرف (الحديث)

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو انسانانو زړونه د رحمن د (بيلا کيفه) ګوتو څخه د دوو ګوتو په منځ کي په داسي ډول دي لکه د يوه (انسان) زړه! هغه چي (پخپلو ګوتو سره) څنګه غواړي زړونه سره اړوي. وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعا په ډول داسي وفرمايل: اى د زړونو اړونکې خدايه! زموږ زړونه ستا د اطاعت خواته واړوې. رواه مسلم

---

## د قيامت يوه نښه!

ابوهريره رضي الله عنه وايې چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم خبري کولې په دې وخت کي يو کوچی راغلی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه چي قيامت څه وخت دی؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه کوچي لره وويل قيامت هغه وخت کيږي چي کله امانت ضايع سي نو ته د قيامت انتظار وکړه! هغه کوچي ورته وويل چي د امانت ضايع کېدل څه ډول دي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي کله کار نا اهله کس ته وسپارل سي نو په دغه وخت کي ته د قيامت انتظار باسه. رواه بخاري

---

## د نژدې دوست په انتخاب کی احتياط (الحديث)

رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلْ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والبيهقي

ژباړه: سړی د خپل ملګري پر دين باندي وي (يعني کوم شخص چي يو څوک د زړه دوست ګرځوي نو عموماً د هغه نظريات، عادات او عقايد خپلوي) نو په تاسو کي چي يو څوک (دوست پيدا کوي) نو ودي ګوري چي څوک دوست ګرځوي.

---

## د فقر او محتاجۍ سره کفر (الحديث)

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا. رواه البيهقي في شعب الايمان (مشکوة)

ژباړه: نژدې ده چي فقر (محتاجي) د کفر سبب وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(يعني کېداى سي محتاج کس پر الهي نظام اعتراض وکړي، يا د مالدراو کفارو خوا ته مايل سي او دين پرېږدي حال دا چي فقر الهي امتحان دى چي په صبر سره قوي ايمان او جنت لاس ته راځي).

---

## د درود شريف رسونکي ملائکي (الحديث)

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د الله يو ځانګړي ملائکي دي چي په مځکه کي ګرځي (سياحت کوي)، دوى زما د امت څخه سلامونه ما ته رارسوي. (رواه النسائي والدارمي)

---

## د نبي کريم ص معجزه ابن عباس ته دعا

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم زه په غيږ کي ونيولم او داسي دعا يې وکړه: يا الله! ده ته د قران علم ور زده کړه. (حضرت ابن عباس رضي الله عنه ددغي دعا په برکت سره په تفسير کي نهايي زيات مهارت پيدا کړى چي بالاخره د رئيس المفسرين لقب ورکول سو). رواه البخاري

---

## هوښيار او ناپوه (الحديث)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا ثُمَّ تَمَنَّى عَلَى اللَّهِ. ترمذي، ابن ماجه

هوښيار هغه څوک دى چي خپل نفس په قابو کي ولري او د مرګ وروسته (ژوند) لپاره عمل (تيارى) وکړي او ناپوهـ هغه څوک دى چي د نفس په خواهشاتو اخته وي او الله ته اميد هم لري.

---

## د خلکو څخه سوال کول (الحديث)

فراسي رضي الله عنه فرمايي چي ما و رسول الله صلى الله عليه وسلم تهوويل: اى د الله رسوله! ايا زه سوال کولاى سم (چي د خلکو څخه يو شى وغواړم)؟ نو رسول الله صلى

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله علیه وسلم راته وفرمایل چي یا (لومړی خو سوال مه کوه)، که بیا چیري چاره نه لرې نو د صالحانو خلکو څخه سوال کوه (خپل حاجت ورڅخه پوره کوه). رواه ابوداؤد و النسائي

---

## ځینو علوم جهل دی (الحدیث)

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: إِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا. رواه ابوداؤد (مشکوة)

ژباړه: یقیناً بعضي د علم څخه جهالت وي.

(داسي علم حاصل کړي چي د دیني علم څخه یې محرومه کړي، یا عموماً هیڅ ګټه نه لري او یا دیني علم وي خو عمل نه په کوي او یا عالم داسي خبره کوي چي په پوهیږي نه، نو داسي علم علم نه دی بلکي جهل دی).

---

## د اسلامي امت بهترینه طبقه (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ. متفق علیه

ژباړه: زما د امت بهترین خلک زما د زمانې خلک دي (صحابه)، بیا هغه خلک چي ورپسې دي (تابعین)، بیا هغه خلک چي ورپسې دي (تبع تابعین).

---

## په جنت کي تر ټولو لوی مقام!

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل: تاسو زما لپاره د وسیلې دعا کوئ (چي الله تعالی ما ته وسیله راکړي) دوی ورته وویل چي وسیله څه شي ده ای د الله تعالی رسوله؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: وسیله په جنت کي تر ټولو لوړ مقام او درجه ده، او دې ته بیله یوه نفر څخه بل څوک نه سي رسېدلای او زه امید لرم چي هغه به زه یم (چي دغه مقام ته به رسیږم). رواه ترمذي

تر آذان وروسته چي کومه دعا ویل کیږي همدغه د وصیلې دعا ده: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ إِنّكَ لا تُخْلِفُ الميعاد او که څوک دا دعا وایي نو شفاعت به یې نصب کیږي.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## كه په لاره كي اختلاف راسي (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِى الطَّرِيقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَ أَذْرُعٍ يعني په لاره كي چي مو كله اختلاف راسى (چي څومره لاره بايد پرېږدو؟) نو تاسو ددې لاري بر اووه ذراع (درې نيم متره) پرېږدئ. رواه مسلم

---

## د ظلم د مخنيوي نه كولو پايله (الحديث)

د رحمت نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ. ترمذي، ابي داؤد، جمع الفوائد

ژباړه: كله چي خلګ ظالم (د ظلم كولو په وخت كي) ووينې او د هغه لاس ونه نيسي نو ليري نه ده چي الله پر هغو ټولو عام عذاب راولي.

---

## صدقه وركول مال نه كموي (الحديث)

نبي اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايي: صدقه مال نه كموي او كوم بنده چي د چا غلطي معاف كړي، الله د هغه عزت ډېروي او څوک چي د الله په خاطر عاجزي كوي الله د هغه مرتبه لوړوي. (رواه مسلم).

---

## د شيطان حمله!

حضرت عايشه رضي الله عنها وايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه چي په لمانځه كي يوې او بلي خوا ته كتل څنګه دي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل چي دا د شيطان يو اختلاس دى چي د مسلمان د لمانځه څخه يې حمله كوي. رواه البخاري. يعني دا د مسلمان د لمانځه څخه يوه حمله دى چي شيطان يې ځني كوي.

---

## په ذاكرينو كي حسابېدل

رسول الرحمة صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: كله چي يو سړى د شپې خپله مېرمن هم راكښېنوي او بيا دواړه دوه ركعته (د تهجد) لمونځ يو ځاى سره وكړي نو دوى په ذاكرينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ذکرکونکي نارینه) او په ذاکراتو (ذکر کونکو ښځو) کي لیکل کیږي. رواه ابوداؤد و ابن ماجه

---

## سپی او زنګولې (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ملائیکي د هغو کسانو سره (په سفر کي) نه ملګري کیږي چي د هغو سره سپی یا زنګولې وي. رواه مسلم

---

## د غمځپلي انسان لپاره دعا

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د غمځپلي انسان دعا داده (چي غمونو کړولی وي نو په دغه دعا یې الله جل جلاله غمونه لیري کوي): اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلاَ تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ. رواه ابوداود

ددعا ژباړه: یا الله زه بس همدا ستا د رحمت امید لرم نو ما د سترګو د رپ په اندازه هم و خپل ځان (نفس) ته مه پریږده (بلکه همېشه زما سره مرسته کوه) او زما ټوله کارونه او حالات را اصلاح کړې. بیله تا څخه بل معبود نسته.

---

## تجاران د فجارو په ډله کي... (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

تجاران د قیامت په ورځ د فجارو (په ډله کي) راپورته کیږي بیله هغه (تجار) څخه چي په خپل تجارت کي تقوا کوي او نیک عمل کوي او رښتیا وینا کوي. (رواه الترمذي وابن ماجه و الدارمي)

---

## حضرت مهدي رضي الله عنه (الحدیث)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلاَ يَعُدُّهُ. رواه مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: په اخره زمانه کي يو (حق) خليفه پيدا کيږي چي (پر مستحقينو به) مال تقسيموي او هغه به نه حسابي) يعني پر خلکو به بې حسابه مال تقسيموي چي هغه حضرت مهدي رضي الله عنه دی).

---

## که پر الله او آخرت ايمان لري

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :

که څوک پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري نو هغه دي حمام ته بېله لونګ څخه (لڅ) نه ننوځئ

که څوک پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري نو هغه دي خپله ښځه حمام ته نه پرېږدي

که څوک پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري نو هغه دي پر داسي سترخوان نه کښيني چي پر هغه شراب ګرځول کيږي. رواه ترمذي و نسائي

---

## د قيامت په ورځ سخترين عذاب (الحديث)

سيدِ عالم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ. رواه البخاري و مسلم

ژباړه: د قيامت په ورځ به تر ټولو په سخترين عذاب کي تصوير جوړونکی وي.

---

## زهر او جادو زيان نه سي ور رسولای(الحديث)

سعد رضي الله عنه وايي چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چي فرمايل يې: که څوک د سهار په وخت کي اوه دانې اجوه خورماوي وخوري نو په دغه ورځ ده ته زهر او جادو زيان نه سي رسولای. متفق عليه

---

## د سهار او مازيګر لمونځونه (الحديث)

هغه څوک به هيڅکله د جهنم اور ته داخل نه سي چي د لمر ختو او لمر لوېدو مخکي لمونځ کوي يعني د سهار او مازيګر لمونځونه کوي. رواه مسلم

---

## بې ارزښته شی پيدا کول او استعمالول

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته اجازه راکړې ده چي یوه لړکه، چلاخه، رسۍ او یا دې ته ورته بې ارزښته او بې قیمته شی که څوک په لاره کي پیدا کړي او د هغه څخه خپله ګټه واخلي نو کولای سي. رواه ابوداؤد

---

## نبي کریم (ص) ته ګران کس (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلاَقًا. رواه البخاري ومسلم

ژباړه: په تاسو کي هغه کس و ما ته ډېر ګران دی چي ډېر ښه اخلاق ولري.

---

## جنت او دوږخ به خپله دعا درته کوي

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: که څوک د الله تعالی څخه درې ځله د جنت غوښتنه وکړي نو جنت وايي: یا الله! دغه نفر جنت ته داخل کړه او څوک چي د جهنم څخه درې ځله د ځان ساتني غوښتنه وکړي نو بیا د جهنم اور وایې: یا الله! دغه نفر د جهنم د اور څخه وساته. (رواه ترمذي و نسایي)

---

## د اوداسه اوبه او د جنت زېور (الحدیث)

افضل الانبیا صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنَ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوءُ. رواه مسلم

ژباړه: په جنت کي مؤمن ته زیور (د زینت لپاره تر هغه ځایه) ور رسیږي چي تر هغه ځایه د اوداسه اوبه رسیږي.

---

## درې ډوله رانیول او خرڅول منع دي (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ ، وَبَيْعِ الْغَرَرِ ، وَبَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ أَنْ تُدْرِكَ).رواه ابوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د سخت محتاج کس څخه د شي د رانیولو او دداسي شي د بیع څخه چي د هغه حاصلېدل یقیني نه وي او د مېوې د رسېدلو څخه مخکي د هغو د بیع څخه منع کړې ده.

---

## بې برکته مال په خاورو مصرفیږي (الحدیث)

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِي مَالِهِ جَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ. مشكاة المصابيح، شعب الايمان

ژباړه: کله چي د یوه بنده په مال (او دولت) کي برکت نه وي نو دا مال دی په اوبو او خاورو ګډوي. (یعني بېله ضرورته خپل مال په ښایستو او ګران بیه تعمیراتو کي لګوي).

---

## د ملائکو دعاء او ښرا (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

هره ورځ چي پر بنده ګانو سهار سي نو دوې ملائکي راکښته کیږي، یوه ملائکه داسي وایي چي یا الله! هغه څوک چي ستا په لاره کي مال ښندي هغه ته عوض ورکړه او بله ملائکه بیا وایي چي یا الله! هغه څوک چي بخل کوي (ستا په لاره کي مال نه ښندي) د هغه مال د منځه یوسه. متفق علیه

---

## بهترین کسب (الحدیث)

قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ : عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ.( رواه احمد)

حضرت رافع رضي الله عنه فرمايي چي وويل سول: يا رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم کسب تر ټولو ښه دی؟ ويې فرمايل: د سړی د خپل لاس کار کول او هغه تجارت چي (د دینداری له کبله) مقبول وي.

---

## د ژبي څخه د بدن د غړو شکایت (الحدیث)

ابوسعید خدري رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه مرفوعاً روایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي :إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ، فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ، فَتَقُولُ: اتَّقِ اللَّهَ فِينَا، فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ، فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا، وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا. رواه الترمذي

ژباړه: کله چي بن ادم سهار کړي نو د بدن ټول غړي ژبي ته عاجزي کوي او ورته وايي چي زموږ) په حق کي) د الله څخه وبيرېږه! ځکه چي زموږ تعلق ستا سره دی که ته سيده اوسې موږ به هم سيده اوسو او که ته کږه وې موږ به هم کاږه سو.

---

## تر ټولو ښه او بدي خبري او کارونه

رسول الله صلی الله عليه وسلم به په خطبه کي تر حمد او صلاة وروسته فرمايل چي اما بعد: په خبرو او ويناوو کي تر ټولو ښه او غوره کلام د الله جل جلاله کتاب (قرانکريم) دی او په تګ لاروکي تر ټولو ښه د محمد (ص) غوره تګ لاره ده او تر ټولو بد او شرير د کارونو څخه هغه کارونه دي چي څوک يې په دين کي نوي را پيدا کوي او هر بدعت (په دين کي نوی پيدا سوی شی) ګمراهي ده. رواه مسلم

---

## د شکر سجده کول (الحديث)

ابوبکره رضي الله عنه وايي: چي کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د خوشحالۍ يو خبر راورسېده ، داسي خبر به ورته راغلی چي په هغه به دی خوشحاله سو نو مځکي ته به پر سجده ولوېدی د الله تعالی د شکر د اداينې لپاره به يې د شکر سجده کول. رواه ابوداؤد و الترمذي

---

## په لمانځه کي توجه اوښتل (الحديث)

حضرت انس رضي الله عنه وايي چي حضرت عايشې رضي الله عنها يوه نازکه پرده درلودل چي د خوني په يوه طرف کي يې ځړولې وه. نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي ته دا پرده زما له مخي ګوښه (ايسته يې) کړه ځکه دا د پردې تصويرونه ما ته په لمانځه کي راوړاندي کېدل (زما توجه يې بلي خوا ته اړول). رواه البخاري

---

## د حيواناتو سره ښه چلند کول (الحديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(یو نفر تږی سپی اوبه کړی نو الله تعالی دغه نفر ته بخښنه وکړه پر دې قصه باندي) یوه صحابي پوښتنه وکړه چي ای د الله رسوله (صلی الله علیه وسلم)! ایا یقیناً موږ ته د حیواناتو سره په ښه چلند کولو اجر سته؟ ده مبارک وفرمایل: د هر لوند ځیګره (ساه کښ سره په ښه چلند کولو) اجر سته. رواه البخاري

---

## د ښه اولاد لرلو طریقه (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: وَبَرُّوا آبَاءَكُمْ تَبَرَّكُمْ أَبْنَاؤُكُمْ. مستدرک للحاکم، الترغیب

ژباړه: او د خپل مور او پلار سره نیک سلوک کوئ ستاسو اولادونه به ستاسو سره نیک سلوک کوي.

---

## کامل صبر د صدمې په شروع کي وي (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى. رواه البخاري

ژباړه: یقیناً کامل صبر هغه دی چي د غم په شروع کي وسي.

---

## د ځینو ګناهونو دنیوي زیانونه

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي: پر هر قوم او ملت کي چي د غنیمت په مالونو کي خیانت را ښکاره سوی دی د هغه ملت او قوم په زړونو کي الله پاک د دښمن بیره اچولې ده (هغه قوم بزدله سي او د دښمن سره مقابله نه سي کولای)، او په هر قوم کي چي زنا خپره سي نو په دغه قوم کي مړګونه زیاتیږي (مریضی زیاتیږي)، او هر قوم چي تول او پیامنه پوره نه ورکوي (د بل حق پوره نه ورکوي) نو پر دغه قوم د رزق کمي راځي، او هر قوم چي په ناحقه پریکړي او فیصلې کوي په هغو کي وینه تویول (خپل منځي جنګونه) زیاتیږي او هر قوم چي وعده ماتوي نو پر هغوی دښمن مسلط کیږي. رواه مالک

---

## قیامت پر بدکارو خلکو قایمیږي (الحدیث)

رسول الله فرمایلي دي: لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ عَلَى شِرَارِ النَّاسِ. رواه مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: قيامت صرف پر بدکارو خلکو قايم کيږي.

---

## د درو کسانو سره الهي مرسته کيږي

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: د ۳ کسان کومک الله ج په خپل فضل سره پر خپل ځان لارم کړی دی. يوه هغه غلام دی چي دی غواړي د خپل مالک څخه د پيسو په بدله کي خپل ځان آزاد کړي، او بل هغه نکاح کونکی دی چي دی د ښځي سره په دې نکاح کوي چي د ناروا څخه ځان په وساتي او بل هغه مجاهد دی چي دی د الله ج په لاره کي د کفارو سره جنګيږي. (رواه ترمذي، نسايي و ابن ماجه)

د دغو ۳ کسان سره کومک الله ج پر خپل ځان لازم کړی دی يعني حتماً الله ج کومک ورسره کوي.

---

## پر لږ شي شکر نه کول (الحديث)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر منبر وفرمايل:

مَنْ لَمْ يَشْكُرِ الْقَلِيلَ ، لَمْ يَشْكُرِ الْكَثِيرَ. رواه احمد

ژباړه: کوم څوک چي پر لږ شکر نه کوي هغه پر ډېر هم شکر نه کوي.

---

## د کفر، فقر او قبر د عذاب څخه د خلاصون دعا (الحديث)

نبي کريم ﷺ به تر هر لمانځه وروسته دا مختصره دعا ويل:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ) .النسائي)

---

## خواږه شيان او عسل (الحديث)

د مؤمنانو مور حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ. رواه البخاري

ژباړه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم خوږ شی او عسل ډېر زيات خوښ وه.

---

## د مسلمانانو د ډلي سره اوسېدل (الحديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من أراد بحبوحة الجنة فيلزم الجماعة. رواه الترمذي

ژباړه: څوک چي د جنت منځ (ښه ځاى) غواړي نو هغه دي د (مسلمانانو) د ډلي سره لازم واوسي.

---

## د خلګو په اړه بد ګمان کول (الحديث)

رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: احْتَرِسُوا مِنَ النَّاسِ بِسُوءِ الظَّنِّ. رواه الطبراني

ژباړه: د خلګو په اړه د بد ګمان کولو څخه ځان وساتئ.

---

## د دوږخ او جنت پر شا وخوا (الحديث)

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ. رواه البخاري.

ژباړه: د دوږخ اور په شهوتونو سره احاطه سوی دی او جنت په سختيو او مشکلاتو سره احاطه سوی دی.

---

## د الله تعالى مرسته لاس ته راوړل (الحديث)

رسول کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ. رواه مسلم

ژباړه: او الله تعالى تر هغه وخته د بنده مرسته کوي تر څو چي هغه د (مسلمان) ورور سره مرسته کوي.

---

## غنا لاس ته راوړل او د فقر مخنيوى(الحديث)

افضل الانبياء صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي الله تعالى فرمايي:

اى د آدم زويه! زما د عبادت لپاره ځان فارغه کړه زه به ستا سينه د غنا څخه ډکه کړم او ستا فقر به بند کړم (غني به دي کړم)، که داسي ونه کړې (زما عبادت ته ځان فارغه نه کړې) نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا لاسونه به د شغل (مصروفیت او کارو) څخه ډک کړم او ستا فقر به بند نه کړم (د فقر دروازه به دربانډي را خلاصه کړم ). رواه الترمذي

---

## ستاسو د هلاکت ذریعه (الحدیث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :په الله قسم! زه ستاسو پر فقر نه بیربیږم مګر زه ددې څخه ببربیږم چي پر تاسو به د دنیا (ساز او سامان داسي) فراخ کړل سي لکه چي ستاسو څخه پر مخکي خلکو پراخ کړل سوي وه، نو بیا به تاسو حرص وکړی لکه مخکي خلکو چي حرص پکښي کړی وو او هغه به تاسو داسي هلاک کړي لکه هغوی چي یې هلاک کړي وه).متفق علیه)

---

## پر الله عزوجل ښه ګمان لرل (الحدیث)

حضرت جابر رضي الله عنه فرمایي چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات څخه درې ورځي مخکي واورېدل چي فرمایل یې: په تاسو کي دي هیڅوک په داسي حالت کي نه مري چي هغه پر الله تعالی نیک ګمان ونلري. (یعني الله تعالی ته دي د رحمت او مغفرت امید لري او نیک اعمال دي کوي ځکه نیک اعمال د مرګ پر وخت انسان ته پر الله تعالی ښه ګمان نصیب کوي). رواه مسلم

---

## په لمانځه کي آمین ویل (الحدیث)

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ صَلَّى بِنَا رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم فَلَمَّا قَرَأَ}:غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ {قَالَ : آمِينَ و اخفا بِهَا صَوْتَه .رواه الترمذي و احمد وطیالسي و دارقطني و طبراني و الحاکم

وائل بن حجر رضي الله عنه فرمایي: موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ راکړی کله چي یې}: غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ {ووایه نو آمین یې ووایه او په دې کي یې خپل ږغ پټ کړی.

---

## الله تعالی پر چا رحمت کوي؟ (الحدیث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله (ج) پر هغه چا نه رحميږي چي هغه پر خلکو نه رحميږي. (متفق عليه)

---

## د يخنۍ دوه لمونځونه (الحديث)

که څوک د يخنۍ دوه لمونځونه (د سهار او مازيګر) اداء کړي هغه به جنت ته داخليږي. متفق عليه

---

## عيب، لعنت، فحش او بده وينا ويل (الحديث)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی:

لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِيءِ. ( رواه الترمذي)

ژباړه: هغه (کامل) مؤمن نه دی چي پر نورو عيب لګونکی وي او لعنت ويونکی وي او فحش کونکی او ويونکی وي او بد ژبی وي.

---

## د اور او منافقت څخه خلاصون (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

که څوک د الله لپاره څلوېښت ورځي په جماعت لمونځ وکړي (په داسي ډول چي د امام سره) اول تکبير نيسي نو ددغه نفر لپاره د دوو شيانو څخه براءت (پاکي) ليکل کيږي: د اور څخه براءت او د منافقت څخه براءت. رواه الترمذي

---

## که غواړې د قيامت ورځ ووينې (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: کوم شخص چي دا خوښ لري چي د قيامت د ورځي (حالات) داسي ووينې لکه په سترګو چي يې ويني نو ده لره پکار ده چي إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ، إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ او إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ سورتونه ووايي. رواه احمد والترمذي

---

## نه جهاد کول او نه يې اراده لرل (الحديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ. رواه مسلم

ژباړه: كوم شخص چي په داسي حال كي مړ سو چي نه يې جهاد وكړی او نه يې په زړه كي د جهاد كولو فكر وو نو هغه شخص د نفاق په يوه شعبه كي مړ سو.

---

## الله تعالی ته دوه خوښن خويونه (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم د عبدالقيس د قوم سردار ته وفرمايل: إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ الْحِلْمُ وَالأَنَاةُ. رواه مسلم

ژباړه: په تاسو كي دوې داسي خبري دي چي الله تعالی يې خوښوي: (١) حلم، زغم يا بردباري او (٢) تر غور او فكر وروسته كار كول.

---

## د عاشورا روژه او د تير كال ګناهونه (الحديث)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

صيام يوم عاشوراء أحتسب على الله أن يكفر السنة التى قبله. (مسلم)

ژباړه: زما اميد دی، چي د عاشوراء د ورځي روژه به د مخكني كال ګناهونه ورژوي.

---

## ګراني او ارزاني څوک راولي

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چي د رسول كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كي د شيانو نرخونه پورته سول او ګراني جوړه سوه نو اصحابي كرامو رضي الله عنهم وويل چي اى د الله رسوله صلى الله عليه وسلم د شيانو نرخونه موږ ته وټاكه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي د شيانو نرخونه الله تعالی ټاكي (ګراني او ارزاني الله عزوجل راولي)، الله تعالی قابض (تنګي راوستونكی) دی، باسط (پراخي راوستونكی) دی، رازق دی. زه دا هيله لرم چي د خپل رب سره په داسي حالت كي ووينم چي نه مي ستاسو په مال او نه وينو كي پر تاسو ظلم كړی وي.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخري نبي او آخري امت (الحديث)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

لا نَبِيَّ بَعْدِي وَلا أُمَّةَ بَعْدَ أُمَّتِي. (المعجم الكبير للطبراني)

ژباړه: زما وروسته هیڅ نبي نسته او زما تر امت وروسته به هیڅ امت نه وي.

---

## ښه اخلاق او بده ژبه (الحديث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تر ټولو دروند شی چي د مؤمن د نکیو په پله کي ایښوول کیږي هغه ښه اخلاق دي او الله جل جلاله د هغه چا سره بغض لري چي فحش وینا وي کوي او بد ژبی وي. رواه ترمذي

---

## د نبي صلی الله علیه وسلم اعتکاف (الحديث)

حضرت عایشه رضي الله عنها فرمايي: أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ. متفق علیه

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې په اخرو لسو ورځو کي اعتکاف کاوه تر داسي اندازي چي الله تعالی د دنیا څخه وفات کړی، بیا تر دوی وروسته د دوی بیبیانو اعتکاف کاوه.

---

## د امام تر شا قرائت نه ویل کیږي (الحديث)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةَ الإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ. رواه احمد و ابن ماجه و مصنف ابن ابي شيبة

ژباړه: کوم شخص چي امام ولري (د امام تر شا ولاړ وي) نو د امام قرائت دده لپاره قرائت دی (مقتدي ته حاجت نسته چي قرائت ووايي).

د مشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم آثار:

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر المؤمنین حضرت ابوبکر صدیق، امیرالمؤمنین حضرت عمر او امیرالمؤمنین حضرت عثمان رضي الله عنهم د امام سره د قرائت ویل منع کول. مسند عبدالرزاق (د امام بخاري رح استاذ)،

او امیرالمؤمنین حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: کوم شخص چي د امام سره قران ووایه هغه پر فطرت (سنت) نه دی. مسند عبدالرزاق، مصنف ابن ابي شيبه (د امام بخاري رح استاذ)، دارقطني، طحاوي

امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي: کوم څوک چي د امام شا ته قرائت وايي زه دا خوښ لرم چي په خوله کي يې ډبره وي. مسند عبدالرزاق، موطا امام مالک. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي: کوم شخص چي د امام شا ته قرات وايي کاشکي دده خوله د خاورو ډکه سي. مسند عبدالرزاق، طحاوي

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي: کوم شخص چي د امام شا ته قرات وايي زما خوښه ده چي دده په خوله کي انګار وي. موطا امام محمد و مصنف ابن ابي شيبه.

---

## تر غوږو لاسونه پورته کول (الحديث)

حضرت مالک بن حویرث رضي الله عنه فرمايي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم كَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ. رواه مسلم

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم چي به کله تکبير وايه نو خپل دوه لاسونه به يې پورته کول تر داسي اندازې چي د خپلو دوو غوږو پوري به يې پورته کول).د مسلم په بل روايت کي حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ د غوږو تر نرمۍ پوري ذکر سوی دی).

---

## د اصفهان يهود د دجال سره (الحديث)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ. رواه مسلم

ژباړه: د اصفهان اويا زره (۷۰۰۰۰) يهود به د دجال اطاعت او پيروي غوره کړي چي پر سرو به يې طيالیسي (ټوکران) وي.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غور او تدبر کول او يا تلوار کول (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الأَنَاةُ مِنَ اللَّهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ. ( رواه الترمذي )

ژباړه: بردباري (غور او تدبر) د الله له طرفه وي او تلوار د شيطان له طرفه وي.

---

## د قران کريم ماهر او عام ويونکی (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِى يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ. متفق عليه

ژباړه: د قران ماهر د هغو ملکو سره دی چي ليکونکي، عزتمندي او نيکي دي او هغه شخص چي قران وايي او پکښي بنديږي او قران ويل دده لپاره مشکل وي د هغه لپاره دوه ثوابه دي.

---

## د خلکو سره د رويې کولو اصول (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ. (رواه ابوداؤد)

ژباړه: د خلکو سره د هغو د مرتبې مطابق معامله وکړی.

(کشر ته د مشر رتبه مه ورکوئ او مشر ته د کشر رتبه مه ورکوئ که نه نو د نړۍ نظام به فاسد سي).

---

## درې شيان مه ځنډوه (الحديث)

حضرت علي رضي الله عنه وايي چي ما ته نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

ای علي! درې شيان مه ځنډوه: يو لمونځ دئ چي وخت يې راغلی، او جنازه ده چي حاضره سول او هغه (ښځه) چي واده ونه لري نو که يې کفوه (سيال) پيدا سي (مه يې ځنډوه).

---

## د نبي کريم ﷺ د کفن مبارک تٻوکر (الحديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايي:

إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدَةٍ حِبَرَةٍ. متفق عليه

ژباړه: کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات سو نو دده مبارک پر پاک او اطهر جسد باندي يمنی ټوکر واچول سو او پکښي پټ کړل سو.

---

## د تنګ لاس کس سره اساني کول (الحديث)

رسول کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. (رواه مسلم)

ژباړه: او چا چي پر تنګ لاسي کس باندي اساني وکړه (پور يې ور معاف کړی يا يې ور ادا کړی) الله به په دنيا او اخرت کي پر ده باندي اساني وکړي.

---

## د قهر او درد زغمل - حوره حاصلول (الحديث)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي :مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلاَئِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللَّهُ مِنَ الْحُورِ مَا شَاءَ. (رواه ابوداود)

ژباړه: کوم شخص چي خپله غصه وزغمي او دی پر دې قادره وي چي دا (غصه) عملي کړي نو د قيامت په ورځ الله عزوجل دی د مخلوق په وړاندي راغواړي او ده ته دا اختيار ورکوي چي دی کومه حوره غواړي خوښه دي يې کړي.

---

## د اخري زماني د خلګو مال حاصلول (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلاَلِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ. رواه البخاري

پر خلګو يوه داسي زمانه راتلونکې ده چي سړي ته کوم مال لاس ته ورځي نو دا پروا به يې نه کوي چي دا حلال دی که حرام.

---

## د ښځو په اړه نبوي توصيه (الحديث)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو د ښځو په اړه زما توصیه قبوله کړئ (چي د ښځو سره به ښه سلوک کوئ) ځکه ښځي د پښتۍ څخه پیدا سوی دي او په پښتیو کي تر ټولو زیاته کږه لوړه پښتۍ ده نو که ته دا (کږه پښتۍ) سیده کوې نو ماتوې به یې او که یې پر (همدغه حالت) پرېږدې نو کوږوالی پکښې دی نو تاسو د ښځو په اړه زما توصیه قبوله کړئ (چي ښه ګذاره به ورسره کوئ). متفق علیه.



(إِنَّ اللَّهَ وَمَلائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا.) الأحزاب ﴿٥٦﴾

(وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ) يس ﴿١٧﴾

ستاسي د دعاګانو په هیله!

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**